ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

**باچارحمان**
پي ایچ ډي (پښتو) ریسرچ سکالر،پښتونخوا مطالعاتی مرکز، باچا خان یونیورستي چارسده
**ډاکټر اصل مرجان (محب وزیر)**
اسسټنټ پروفیسر، پښتونخوا مطالعاتی مرکز، باچا خان یونیورستي چارسده

# د میرزاخان انصاري د غزل فني محاسن

**Bacha Rahman**
PhD (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda
**Dr. Asal Marjan**
Assist Professor, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda
**Email:** bacharehman65@gmail.com

## The Artistic Merits of Mirza Khan Ansari’s Ghazal

This Article explores the artistic merits of Mirza Khan,s Ghazals,a wel khnown poet of the Roshnite school of thought.As a pioneer of romanticism in pashto literature,Mirza Khan,s poetry masterfully intertwines religious, Sufi, philosophical and romantic themes, showcasing his artistic genius. His ghazals exemplify the artistic beauties of Pashto poetry, featuring a rich tapestry of figurative language. metaphors, and symbolism. This study highlights Mirza Khan,s innovative use of language, imagery, and emotional depth, demonstrating how his ghazals embody the essence of artistic merits. This article sheds light on Mirza Khan,s enduring impact on

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21


pashto literature and his continued relevance in contemporary literary discourse.

**Key Words:** *Pashto Ghazal, artistic style of Mirza khan Ansaris Ghazal, use of figurative language in his poetry.*

هڅې خو د فني محاسنو يا فني خوبيو "Artistic Merits" ګڼ شمېر تعريفونه شوي دي و لې دلته زۀ د يو څو معتبرو اديبانو او پوهانو هغه کوټلي او جامع تعريفونو باندې اکتفا کوم چې د موضوع سره سمون خوري او د زده کړې په مد کښې سودمند ثابت شي. کلايو بل* Clive bell* په خپل کتاب " آرټ " کښې ددې تعريف څۀ په دې ډول کوي:

> "Artistic merit refers to the intrinsic qualities of a work of art such as composition, skill ,originality and aesthetic harmony, independent of external context or moral considerations."١

ژباړه: فني محاسن يا فني خوبۍ د يو فن پارې داخلي خصوصيات وي . د مثال په توګه ترکيب،مهارت،جدت او جماليات همغږي،دا تول د بهرني وضيعت يا اخلاقي ارزونو څخه ارزول کېږي .

همدغه شان يو بل دانشور ارتهر ډانتو "Arthur Danto" په خپل اثر "The transfiguration of the common place" کښې ليکي:

> "Artistic merit is determined by a works contribution to cultural discourse ,its innovation ,and its ability to challenge or reflect societal values."٢

ژباړه: فني يا هنري قدروقيمت يا ارزښت د هغه اثر له لارې اندازه کېږي چې څومر فرهنګي بحث ته ونډه ورکوي،څومره جدت يا نوښت لري،او دا چې څنګه کولې شي

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21

ټولنیز ارزښتونه وخوروي یا یې انعکاس کړي.

په شاعرۍ کښې د فني خوبیو په حقله د یو بل ادیب او دانشور لیو ټالسټائے "Leo Tolstoy" دا تعریف ډېر جامع دے چې ډېر په وضاحت او په شکلي انداز کښې یې د شاعرۍ د فني ښایست څرګندونه کړې ده:

> "Artistic merit is measured by the depth of emotional response a work elicits ,its ability to communicate human experience ,and its lasting resonance."۳

ژباړه: د هنري یا فني محاسنو یا هنري ارزښت اندازه ددې خبرې نه کېږي چې یوه فن پاره څومره ژور جذباتي رعمل پېداکوي،دا انساني تجربه ترکومه حده په موثر انداز کښې بیانولے شي،او ددې اثر ترڅومره مودې پاتې کېدے شي.

په غزل کښې د فني ښکلا مطلب دا دے چې شاعر د خپلو خیالاتو او جذباتو اظهار لپاره داسې ادبي وسایل،د لفظونو جوړښت او ترکیب،موسیقیت،بحر،قافیه،تشبیه،استعاره، صنایع وبدایع او فني مهارتونه کاروي چې د شعر د داخلي جوړښت ښکلا زیاتوي.دا فني خوبیاني د غزل د تاثیر او ارزښت لوړولو لپاره ضروري ګڼلے کېږي.

> "غزل هغه وخت فني ښکلا ته رسي چې د لفظونو خوږه نغمه،شعري جوړښت،د تشبیه او استعاره سم استعمال او د وزن پابندي په کښې په بشپړه توګه موجود وي.دا عناصر د غزل جاذبیت زیاتوي."۴

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

ډاکټر راج ولي شاه خټک د غزل فني محاسنو په اړه د خپلې رایې څرګندونه څه په دې ډول کوي:

" په غزل کښې فني ښکلا هغه نظم او ترتیب ته وايي چې د لفظونو انتخاب،قافیه،ردیف،نغمه او بحر پکښې داسې برابر شي چې د شاعر جذبات په مؤثر ډول څرګند کړي او د لوستونکي په ذهن کښې د تاثیر ژور اثر پرېږدي."۵

د پروفېسر مجیب الرحمان شهاب تعریف هم د پورته ذکر شوو تعریفونو سره په څه نه څه شکل کښې داسې ورته والے لري:

" فني ښکلا د شعر هغه تخلیقي اړخ دے چې پکښې د ژبې خوږوالے،نغمه،تشبیهات،استعارات او د موضوع فني ترتیب شامل وي.دا فني وسایل د شاعر د احساساتو د اظهار یو ښکلي چوکاټ جوړوي."۶

د مېرزا خان انصاري غزل هم د فني محاسنو له کبله په پښتو ادب کښې یو اوچت مقام لري. په غزل کښې یې تصوف،فلسفه او فن درې واړه یوکړي دي چې یقیناً پښتو ادبي تاریخ کښې د نورو شاعرانو او لیکوالانو د پاره اساس ګرځېدلے دے.دې سره سره په غزل کښې یې ځانګړي اصطلاحات،لفظیات،تشبیهات او د استعارو استعمال په د غه عصر کښې د فکر او فن په حواله یوه نوې تجربه هم ده.

" مېرزا خان انصاري د پښتو کلاسیک یو پرګو شاعر دے څوک چې د یوې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

> مودې پورې د پښتو ورومبې صاحب د ديوان شاعر منلے کېدو.خو کله چې د ارزاني خوېشکي ديوان لاسو ته راغے نو مېرزا خان انصاري ته په دغه لحاظ دوېمه نومره ورکړے شوه.په هر لحاظ د مېرزا خان انصاري حېثيت،قدامت او درنښت پښتو شعري ادب کښې مسلم دے. په دې چې هغه نۀ يواځې د خپل فکر او فن د پاره په پښتو ژبه کښې خوندي ځانګړني پکار راوستي دي بلکې ددغې متعلقه دورې فکري،نظري او ادبي روايات يې هم د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولي ده. ٧

په بنيادي توګه د مېرزا خان انصاري د غزل موضوعات عشق او محبت، اخلاقيات،تصوف، انسان دوستي، امن ،صلح او آفاقي محبتونه دي ولې د اعلٰی علميت او زيرکتيا کمال يې دا دے چې ددې د اظهار د پاره يې د خپل فن او هنر په سوب په ساده او روانه پښتو لهجه کښې د بيانولو هڅې کړي دي چې يقيناً په پښتو ادبي تاريخ کښې ددې خصوصياتو له کبله يې خپله پېژندګلو برقرار ساتلې ده.

د يو شاعرکلام چې تر څو پورې په فني توګه ښکلي او ښايسته نه وي نو تر هغې پورې د هغې معيار تا کل نا شوني ښکاري. د هر شاعر دا هڅه وي چې خپل کلام کښې ښکلا په فني توګه پوره اوساتي او دا د علم البيان او علم بديع نه بغېر هېڅکله هم ممکن نه ده.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلّه

د *Artistic Merits* نه مراد په اصل کښې په کلام کښې د فني خوبيو معيار دے چې ددې له وجې يو کلام د لفظونو او د معنې په شايست خوندور شي.په دې کښې د جذباتو ژورتيا،جمالياتي ښکلا،جدت،فني مهارت او فلسفيانه بصيرت مهم او ضروري جذيات ګڼلے شي.بېلا بېلو سکالرانو او پوهانو د وخت سره سم ددې په بېلا بېلو اړخونو بحث کړے دے.

> " هر يو ليکونکے که هغه شاعر وي او که اديب په خپل اسلوب کښې د خپل شخصيت او ليک عکاسي کوي او د ادب سره تړلے يو ليکوال په يو صورت کښې هم له دې صورت حال نه ځان نه شي خلاصولے."٨

ښاغلې ډاکټر پروېز مهجور صېب ليکي:

> " د مېرزا خان اکثره شاعري او په خصوصي توګه پښتو غزل د تشبيهګانو،استعارو او علامتونو د معنې دوه سطحې لري يو خوا دا د فصاحت او بلاغت تکنيکي استعمال لري او بل خوا د تصوفي اصطلاحاتو مفهوم واضحوي"٩

همدغه شان د مېرزا خان په پښتو غزل کښې د استعمال شوؤ لفظياتو او اصطلاحاتو په حقله مهجور صېب د خپلو خيالاتو څرګندونه څۀ په دې ډول کوي:

> "مېرزا خان په خپله شاعرئ کښې د خپل مسلک تعليمات او د هغو اهم نکات او اصطلاحات بيانوي.د مثال په توګه اتۀ مقامونه،خفي ذکر،خفي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21



> شرک،گمان،یقین،خوف او رجا،د نفس او شېطان نه ژغورنه،د دنیا محبت او غفلت نه ځان ساتل،مرګ او اخرت یادؤل،د خدائے د دیدار،فقر،ساه او د احساس قدر پېژندل."۱۰

ښاغلي ډاکټر یار محمدؐ مغموم صېب په "روښانیان او پښتو ادب" کښې د مېرزا خان انصاري په غزل کښې د هغه فني اړخ ته داسې اشاره کوي:

> "شعر ته د فني ښایست او تخیلي عظمت ورکولو سره مېرزا خان انصاري د شعر په ظاهري رغاونه کښې رنګ تجربې وکړې او د پښتو شاعرۍ د مزاج سره سم یې د وزن،بحر او د عروضو په مېزان تللي غزل ته لاره هواره کړه"۱۱

مونږ چې کله د یو لیکوال، شاعر یا ادیب د کلام یا د یوې ادبي فن پارې جایزه اخلو یا د هغه انفرادیت یا ادبي پوهه په ګوته کول غواړو نو دا کار هله ممکن کېدے شي چې تر څو پورې ددې شاعر یا ادیب طرز تحریر او اظهار بیان سره واقفیت نه وي حاصل کړې.ددې مطلب دا کېدے شي چې د یو شاعر د حقیقي پېژندګلو لپاره ضروري ده چې مونږ د هغه د اسلوب کوتلے او ښۀ په غور فکر سره مطالعه اوکړو.اسلوب هم په اصل کښې د فني خوبیو یو مهمه برخه ده.اردو لیکوال ښاغلي سیدتقي عابدي لیکي:

> " اسلوب د یو ادبي اظهار لپاره بنیادي توکے دے او ددې په سبب یو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21



> منظوم یا نثري فن پاره خپل معيار او اهميت برقرار ساتلے شي.څومره چې د يو شاعر علمي او ادبي پوهه زيا ته وي دومره د هغه په ليکښې ادبي اسلوب او فني اړخ پوره وي.ادبي اسلوب د يو فکر،معنٰی،لفظ او د هئيت په حقله شننه کوي او په ادب کښې يو مخصوص مقام ټاکي او د انفرادي خوبيو له رويه خپله پېژندګلو متعارف کوي "۱۲

همد غه شان ګوپي چند نارنګ چې د اردو ادب ليکوال دے د خپلو خيالاتو څرګندونه په دې ډول کوي:

> ژباړه: "ځنې شاعران داسې وي چې هغوي سره يو خاص ډکشن يعنې لفظيات موجود وي او دا هغه لفظونه وي کوم چې شاعر د بېلا بېلو مقصدونو او خيالاتو د اظهار لپاره کله په يو او کله په بل شکل کښې استعمالوي"۱۳

د مېرزا خان انصاري غزل په فني حواله ډېر پوره دے او هغه ځکه چې د شاعرۍ د نورو علومو او فنونو سره ورته په علم بيان،علم بديع او علم المعاني هم پوره دسترس حاصل وۀ.

د علم بديع په حقله ښاغلي مشتاق مجروح يوسفزے ليکي:

> " د علم بديع دوه قسمونه دي يو ته صنايع لفظي يعنې لفظي ښايست او بل ته صنايع معنوي يعنې معنوي ښايست و ئيلے شي.دا د نظم ا صنافو کښې هم کېدے شي

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21

او په نثر کښې هم، په نظم کښې په نسبت
د نثر ډېر خوندکوي"۱۴

مېرزا خان پښتو غزل د علم بیان او علم بدیع د علم د لفظي او معنوي ښائست یوه منفرده هنداره ده او ددې ګواهي یې په خپل یو شعر کښې په دې رنګ کښې کړې ده:

ثابتي به يې و ژبې وته ورشي
چې کلام به له معنٰی سره موزون کا ۱۵

مېرزا خان که یو خوا د په خپل غزل کښې د روښاني مسلک د بنیادي تعلیماتو تقلید کړے دے نو بل خوا یې د خپل ځانګړي فن او فکر په سوب د پښتني ټولنې د غلطو او ناوړه رسمونو او رواجونو ته هم پاملرنه کړې ده او د خپل وس تر حده ئې ددې د اصلاح کړې ده . د مثال په توګه دا لاندیني شعرونه ئې په د غي تناظر کښې شکلي نمونه ده:

کم دلیل سړے له رسمه مقصود غواړي
چې طلب د مقصود نه کا ناقابل دے ۱۶

یا دا شعر:

بې وفا په تش رسمونو پسې ولاړي
نور که فراغت وي خوار به ته وې ۱۷

د مېرزا خان په غزل کښې تصوفي اصطلاحات، تشبیهات، استعارې، علامتونه بېلابېل صنعتونه او تجنیسات په روښاني دوره کښې ددهٔ د ځانګړي تصوفي اسلوب او د ادبي مقام نشاندهي کوي.ددې نه علاوه یې داسې شعرونه هم شته چې د بېلا بېلو صنعتونو او تجنیساتو په تله پوره خېژي او دا تول د پورته ذکر شوؤ علومو په زمره کښې راځي.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

د مثال په توګه دا لاندني صنعتونه ددهٔ په غزل کښې څرګند په نظر راځي.

صنعت اشتقاق:

هغه صنعت چې په کښې د یو مصدر سره تعلق لرونکي لفظونه راوړلے شي داسې صنعت ته صنعت اشتقاق وايي.مثلاً د مېرزا خان په دې شعرونو کښې دغه صنعت څرګند په نظر راځي:

ساجد یو دے له مسجوده
بېهوده ګمان غماز دے۱۸

په دې شعر کښې ساجد او مسجود د یو مصدر لفظونه دي. یا په لاندیني شعر کښې هم دوه لفظونه واصل او وصلت دوه د یو مصدر سره ربط لري .

دا قریب چې تر وصلته پورې راغے
له واصله به پوښتنه د سجیل کا۱۹

صنعت تشبیه:

د تشبیه معنٰی ده مشابهت،په شان،په مثل، په څېر.مطلب دا چې یو څیز د څهٔ خاصو خوبیو او صفتونو له وجې د بل څېز سره یو شان ګرځول چې هغه صفتونه په دواړو کښې موجود وي. د مېرزا خان په شعرونو کښې یې مثال څهٔ په دې ډول دے:

ښهٔ دیدن له هڅي مخه
د رنځور زړګي تریاق دے۲۰

په دې شعر کښې مېرزا خان د ښکلي مخ د یدن د رنځور زړهٔ د تریاق په مانند ګڼي.

یا داشعر چې په دې کښې یې د عارف زړهٔ چې د ګناهونو د زنګه داسې پاک وي لکه څنګه چې آئینه پاکه او شفافه وي:

د عارف زړګے په مثل آئینه ښهٔ
ددې بد ګمان له زنګه مصفه۲۱

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21


يا دا شعر چې په دې کښې مېرزا خان د پير کامل د تلقين په حقله وائي چې ددې تاثير داسې دے لکه څنګه چې په لفظ "لا" وئيلو سره د نورو نابودو نفي کېږي همدغه شان د پير کامل د وعظ او تلقين تاثير هم دے:

د کامل د تلقين هڅې رنګ تاثير دے
چې نا بود و غېر يې محوه شي په لا۲۲

په لانديني شعر کښې ئې د کبرجن تشبيه د لېوني سپي سره ورکړې ده:

کبرجن له خپله کبره خواري مومي
لکه سپې چې لېونے شي له خناقه ۲۳

همدغه شان ئې دا لانديني نور شعرونه هم د تشبيه ښکلي نمونې دي.

پر سپين مخ ئې توري زلفې جاروتلې
د خامارو سريکار وي له چندڼه ۲۴
لکه مخ له خال و خطه سره زېب کا
هسې سترګې ښائسته په خپل بانڼۀ وي۲۵
ښائسته صورت يې اونه د چندڼ ده
دا ګېسو يې ترې پرېوتے لکه مار دي۲۶
پر بانڼۀ مې دي لوې اوښې ولاړې
لکه در چې وپېسيې په تور تارونه۲۷
د هجران له دوکه تاؤ هسې په زړۀ ځي
چې د باد له مخه اور په اوچ واښۀ ځي۲۸

تجنيس مضارع:

لانديني شعر د تجنيس مضارع يوه ښکلې نمونه ده او هغه څکه چې په دې کښې دوه لفظونه فقر او فخر کښې د حرفونو تعداد يو هومره دے ولې يو حرف پکښې بدل دے او په تلفظ کښې هم يو شان دي:

دا د فقر حال يې ورغے تر فخر
په تمام عالم يې برق دے د ثنا۲۹

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21



صنعت طباق یا تضاد:

صنعت تضاد دې ته وايي چې کله شاعر په شعر کښې داسې دوه لفظونه راوړي چې په معنوي بڼه د يو بل اپوټه وي نو دې ته صنعت تضاد وئيلےشي.

" دا هغه قسم دے چې متضاد لفظونو سره د نفي تورے نه وي.لکه پاڅېدۀ،کښېناستۀ،څکه چې دے دواړو لفظونو کښې دطباق د پاره د نفي او اثبات حاجت نشته ۳۰

ولي د مېرزاخان په لانديېنو شعرونو کښې د صنعت تضاد " طباق ايجابي" قسم استعمال شوے دے.

په رښتيا مينه پر ګل باندې بلبل کا
چې په څو جفا وخار ته تحمل کا ۳۱

په بهرني شعر کښې ګل او خار د صنعت ايجابي قسم دے او په معنوي ډول د يو بل اپوټه دي او په دواړو لفظونو کښې د تضاد دپاره د نفي او اثبات ضرورت نشته.همدغه شان په لانديېنو نورو شعرونو کښې هم د صنعت تضاد طباق ايجابي قسمونه استعمال شوي دي او د نفي او د اثبات د تورو نه علاوه په معنوي ډول د يو بل تضاد توري دي.

په ظاهر باطن له نهې جاروتلے
يوه شها امر جلي کا هم خفا ۳۲
نېک و بد واړه راغلي دي له خدايه
اوس د کړو ملامت ولې په يو بل کا ۳۳

صنعتمراعات النظير:

کله چې شاعر په خپل کلام کښې د يوې سلسلې او يو قسم تعلق لرونکي لفظونه استعمال

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21

کړي او څۀ تضاد پکښې نۀ وي نو دې قسم صنعت ته صنعت مراعات النظیر وئیلے شي. د مېرزا خان دا شعر هم په دغه صنعت کښې لیکلے شوے دے ځکه چې په دې کښې رنځوران، طبیب او علاج داسې لفظونه دي چې د یوې سلسلې دي او د ټولو نسبت یو دے.

رنځوران چې له طبیبه غېب نه غواړي
په علاج یې کوشش نه کا حکما۳۴

یا دا شعر:

چې مېوه یې په کمال له اونې پرېوځي
په خوشې د زمکې سر پورته کړه زړے۳۵

په بهرني شعر کښې مېوه، اونه، زمکه او زړے یو قسم مناسبت لرونکي او د یوې سلسلې دي.

صنعت قلب بعض:

دا هغه صنعت دے چې پکښې دوه حرفونه یو شان وي و لې ترتیب یې بدل وي. دې صنعت ته قلب بعض وایي او د مېرزا خان په شعر کښې ئې مثال څۀ په دې ډول دے.

هر عالم چې په خپل علم عمل نه کا
په تحقیق له جاهلانو دے سېوا۳۶

صنعت جمع:

کله کله شاعر په خپل کلام یا شعر کښې ګڼ څیزونه د یو حکم د لاندې بیان کړي. دې قسم صنعت ته صنعت جمع وایي. په دې شعر کښې اصل د خپل اصل په شان وي او چې د چا څنګه خوي وي نو هغوي هم د خپل خوي په مناسبت سره دخپل ځان په شان خوي لرونکي یو د خلقو په ټولي کښې ورګډ وي او بیا په اخر کښې دواړه جمع کړے شوي دي او په یو قام او په یو نسب ورګډ دي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

اصل اصل خوي په خوي سره ګډېږي
د هر قام مناسبت شي له منسوبه
صفات هېڅکله له ذاته نه بېلېږي
ځاے پر ځاے حکم د رب دے له مربوبه ۳۷

صنعت تقسیم:
کله چې په شعر کښې د څه څيزونو او د هغې مناسبات دا سې ذکر کړي چې د هغې تعين او شي چې دا څيز ددې سره او فلانې څيز د فلانې سره تعلق لري. د مثال په طور د اشعر:

څوک طاعت او څوک ګناه کا
ګه ثواب ګهې وبال دے۳۸

په دې شعر کښې د دوه قسم کسانو ذکر دے چې يو اطاعت کوونکے او بل ګناهګار دے.څوک چې د الله او رسولﷺ د حکمونو منونکے دے نو هغه د ثواب مستحق دے او څوک چې د ګناهونو ارتکاب کوي نو دا د هغه د پاره وبال دے .همدغه شان په بهرنې شعر کښې همدغه صنعت کارولے شوے دے.

صنعت تضمن المزدوج :
دا هغه صنعت ته وايي چې کله شاعر په خپل کلام کښې د قافيې نه علاوه دوه داسې لفظونه استعمال کړي چې دواړه هم روي او هم وزن هم وي.د مثال په توګه لاندينې شعرونه يې د نمونې په طور پېش کولے شي:

بې نشان يې په هر شان کښې پسو پټ يې عيان کښې
ته معنٰی يې په بيان کښې تر بيان پر ما لذيذه

زۀ به څۀ وايم له چانه يو صفت دے له وحدانه
مېرزا نه پايي بې جانه اے تر جان پر ما لذيذه۳۹

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21


په دي شعرونو کښي شان،بیان او چانه او جانه دوه هم روي او هم وزن لفظونه دي.

صنعت غلو:

کله کله شاعر په شعر کښي يو داسي خبره بیان کړي چي د عقل او عادت دواړو خلاف وي او دے سره سره د قیاس نه هم لرې وي او د کېدو امکان يې هم نۀ وي.دا د مبالغي قسم دے او دي قسم ته غلو وئیلے شي.د مثال په توګه د مېرزا خان په دي شعر کښي دا صنعت موجود دے:

کۀ يو ځل په سادګی خپسر ځرګند کا
په ښائست يې نه پېرئ شته او نه يې حوره۴۰

صنعت قطع الحروف:

دا هغه صنعت ته وايي چي کله کله شاعر په خپل يو شعر يا پوره کلام کښي د بعضي حرف د نۀ استعمال التزام اوکړي نو هغه شعر يا کلام ته د نه استعمال شوي لفظ په مناسبت سره د غه نوم ورکولے شي.د مثال په توګه که په کلام کښي حرف الف استعمال نۀ شي نو دے ته به صنعت قطع الالف وئیلے شي او که چرې د "ب" حرف نۀ شي استعمال ، نو دي ته به صنعت قطع البا وئیلے شي. د مثال په طور د مېرزا خان لانديني شعر د صنعت قطع البا ښکلي نمونه ده:

د نفاق خرقه ئي درسته په اور کېښوه
د اخلاص جامه ئي واغوسته ظریفه۴۱

صنعت حسن تعلیل:

کله کله شاعر په خپل کلام کښي د څۀ صفت د پاره داسي سبب يا وجه بیان کړي چي په حقیقت کښي د هغه وجه يا سبب د غه نه وي ولي په کلام کښي د ښایست او خوند پېدا

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21

کولو په عرض داسې اوکړي.لکه دا لاندیني شعرونه یې شکلي نمونه ده:

که یو ځل د محبت عجب باران شي
دغه پټ شایست به رنګ په عیان شي
باد په بوي ددغه زړهٔ وړي لونه لونه
هغه زوړ عالم به سر له سره ځوان شي
ارغوان به عقیق جام و سمن ورکه
چې نرګس و شقایق ته نګران شي
دا لاله به د زړهٔ داغ په پاڼه راوړي
او ناګاه به له حسرته ځان په ځان شي۴۲

صنعت ارسال المثل یا ایراد المثل:

په کلام کښې د متل راوړلو فن ته صنعت ارسال المثل یا ایرادالمثل وایي . د مېرزا خان په شعرونو کښې یې نمونه څهٔ په دې ډول ده:

د دانا پوهه مدام په اشارت وي
د نادان ادب په قهر په چهړی۴۳
په دا هسې سفر تلهٔ شي له ضروره
عاقبت د هر چا خپل وطن کشمیر دے۴۴

صنعت تلمیع یا صنعت ذوالسانېن یا ذوالغتېن :

هغه شعر یا کلام چې په هغې کښې شاعر دوه ژبې استعمال کړے وي داسې صنعت ته صنعت تلمیع یا ذوالسانېن یا ذوالغتېن وایي. د مثال په توګه په لاندینو دواړو شعرونو کښې دغه صنعت استعمال شوے دے:

د خالق په خلایق تفاوت نشته
دا چې فارجع البصر هل ترٰی۴۵

یا داشعر:

یو په یو به وفایي ځنې بیا مومي
هر چې وسي مما کانوا عملا۴۶

یا دا شعر:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21



يو چند ګاه خاوري انسان است
که انسان دے روبران است
د صالح عقل میزان است
مېرزا مرغ لامکان است
د یادګار خائے یې خېبر دے۴۷

صنعت تلمیح:

په کلام یا شعر کښې زړې تاریخي واقعې طرف ته اشارې کولو ته تلمیح وايي د مثال په توګه د مېرزا خان په دے شعرونو کښې دا صنعت موجود دے:

دي یعقوب ویر د یوسف په پیرهن کۀ
چې حاسد ورونه یې نۀ کاندي قبا۴۸
دا محمود چې بادشاهي کا
دے عاشق په خپل آیاز دے۴۹

صنعت استفهام:

شاعر چې کله په شعر یا په کلام کښې د څۀ څیز غوښتنه کړے وي یعنې مصرعه استفهامیه وي نو دي صنعت ته صنعت استفهام وئیلے شي.د مثال په توګه دا لاندیني شعر:

د قارون ګنجونه څۀ شو
سلېمان پاڅېدۀ له تخته ۵۰

تجنیس زائد:

په کلام یا شعر کښې داسې دوه لفظونه استعمالول چې په قسم او په حرکاتو او سکناتو کښې یو شان وي خو د حروفو شمېر په یو کښې د بل نه زیات وي.د حروفو زیاتوالے سرته په منځ کښې او په اخر کښې کېدے شي.د مثال په توګه دا شعر چې په دې کښې عادت او عبادت دوه لفظونه داسې دي چې په عبادت کښې یو حرف "ب" زیات دے.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلّہ

ځو عادت په عبادت مبدل نۀ کړي
حقيقي محبوب به نۀ مومي ولاړه۵۱

صنعت تدبيج:
همدغه شان لانديني شعري د صنعت تدبيج ښکلې نمونه ده،ځکه چې په دې کښې رنګونه دحقيقي معنو په ځاے په مجازي معنو کښې راوړلي شوي دي:

دانايان په هر ظاهر کښې باطن ګوري
د جاهلو زړونه تور شو سترګې سپينې۵۲

حوالې

۱.Clive bill ,Art,1914,p 43
۲.Arthur Danto, The transfiguration of the commonplace,1981,p,65
۳.Leo Tolstoy, what is Art,1897,P34
۴.خټک،لعل بادشاه،ډاکټر،د پښتو غزل ارتقايي جاج،پښتو اکېډيمي پېښور،۲۰۰۸،مخ۳۹
۵.خټک،راج ولي شاه،ډاکټر،د پښتو غزل فني او فکري ځانګړتياوې،دانش خپرندويه اداره پېښور،۲۰۱۵،مخ ۵۳
۶.مجيب الرحمان،پروفېسر،د پښتو اب فني ارزښتونه، امين خپروندويه ټولنه سوات،۲۰۱۲،مخ ۸۷
۷.ډاکټر بادشاه روم،د مېرزا خان انصاري په کلام کښې د ضرورت شعري پکارونه،مجله پښتو،جولايي دسمبر ۲۰۲۱،جلد۵،شمېره ۶۶۲
۸.يوسفزے،مشتاق مجروح،زرکانے،قلندر مومند ريسرچ سيل،۲۰۱۸،مخ ۷۶
۹.خوېشکے،ډاکټر،پرويز مهجور مېرزا خان انصاري ديوان،جدون پرنټنګ پريس پېښور،۲۵ نومبر کال ۲۰۰۴،مخ ک

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21


١٠. همدغه اثر،مخ يخ
١١. خټک،مغموم،يارمحمد،ډاکټر،روښانيان او پښتو ادب،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي،جدون پرنټنګ پريس پېښرر،نومبر٢٠١١،مخ ٤٦٩
١٢.عابدي ،سيدتقي،ډاکټر،رموزشاعري،القمرانټر پرايزر رحمان مارکيټ اردو بازار لاهور،٢٠٠٣،صفحه ٥٧
١٣.ګوپي چند نارنګ،ادبي تنقيد اور اسلوبيات،سنګ ميل لاهور،١٩٩١،مخ ١٩
١۴.زرکانړے،مخ ٧
١٥.د مېرزا خان انصاري ديوان،مخ٣٩
١٦.همدغه اثر،مخ ٢٠١
١٧.همدغه اثر،مخ ١٩٨
١٨.همدغه اثر،مخ ١٩۴
١٩.همدغه اثر،مخ ۶
٢٠.همدغه اثر،مخ ٣۶
٢١.همدغه اثر،مخ ٧
٢٢.همدغه اثر،مخ ٢٢
٢٣.همدغه اثر،مخ ٢٥
٢۴.همدغه اثر،مخ ١١٣
٢٥.همدغه اثر،مخ ١٣٨
٢۶.همدغه اثر،مخ ١٨٢
٢٧.همدغه اثر،مخ ١٥٧
٢٨.همدغه اثر،مخ ١۴۴
٢٩.همدغه اثر،مخ ١٥
٣٠..يوسفزے،مشتاق مجروح،زرکانړے،ايډيشن پنځم،امي سوشيو ايجوکېشنل سروسز،٢٠١٨،مخ٢١۶
٣١.همدغه اثر،مخ ۶٢
٣٢.همدغه اثر،همدغه مخ
٣٣.همدغه اثر،مخ ۶٧
٣۴.همدغه اثر،مخ ٢١

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-21



۳۵ همدغه اثر.مخ ۳۴
۳۶.د مېرزا خان انصاري ديوان،مخ ۳۴
۳۷.همدغه اثر،مخ ۲۲
۳۸.همدغه اثر،مخ ۳۵
۳۹.همدغه اثر،مخ ۴۰
۴۰.همدغه اثر،مخ ۴۱
۴۱.همدغه اثر،مخ ۶۵
۴۲.همدغه اثر،مخ ۸۱
۴۳.همدغه اثر،مخ ۲۷
۴۴.همدغه اثر،مخ ۲۰۵
۴۵.همدغه اثر،مخ ۲۸
۴۶.همدغه اثر،مخ ۴۵
۴۷.همدغه اثر،مخ ۲۰۷
۴۸.همدغه اثر،مخ ۱۲۳
۴۹.همدغه اثر،مخ ۷۳
۵۰.همدغه اثر،مخ ۸۴
۵۱.همدغه اثر،مخ ۱۱۲
۵۲.همدغه اثر،مخ ۱۶۵